مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۶/۰۷/۳۱

# روښانفکري څه او روښانفکر څوک دی؟

فکر او تفکر د هر انسان بشري ځانګړنه ده. فکر کول هغه نعمت دی، چې ښتن هرچا ته ورکړی، خو کله چې د روښانفکر نوم رامخکې شي، داسې مانا ورنه اخيستل کېږي، چې ښايي دا به د لړو او خاصو انسانانو کومه ډله وي. که روښانفکران کم وي، نو ايا پاتې نور خلک د تياره فکر خاوندان دي؟ همدلته پوښتنه رامنځته کېږي، چې روښانفکر چا ته ويل کېږي؟ او روښانفکري څه ده؟

استاد ګل پاچا الفت فرمايي:

**يو يې لوی بولي، هغه بل ورته وړوکی وايي**
**خېټه يې لويه او ککره يې وړه ده ډېره**

**کور يې دی نوی، کالي نوي دي، موټر نوی دی**
**فکر يې زوړ دی، خيال يې زوړ، ارزو زړه ده ډېره**

د بشر يوه ځانګړنه دا ده، چې له خپل فکر څخه د خپل ژوند د شرايطو د لاښه‌والي لپاره ګټه اخلي. بشر ټولنيز موجود دی او د انساني ژوند د شرايطو د ښه‌والي هڅه هم هغه وخت مانا مومي چې ټوليزه يا جمعي وي. هر هغه انسان چې د خپل چاپېريال او ټولنې د انسانانو د ژوند د شرايطو د ښېګڼې لپاره فکر و عمل کوي هغه روښانفکر انسان دی. عادي انسانان د ځان او روښانفکران د نورو لپاره فکر کوي، ځکه باور لري چې له ټولنيزې هوساينې پرته فردي هوساينه ممکنه نه‌ده.

لوی روښانفکران بيا هغه دي، چې د ټول بشريت د ژوند د ښېګڼې لپاره فکر و عمل کوي.

نامتو اګزستنسياليست فيلوسوف او ليکوال ژان پُل سارتر ويلي و:

«روښانفکر هغه دی، چې د هرې ټولنيزې بې‌عدالتۍ پروړاندې (نه ) ووايي، همدا يوه شرافتمندانه ( نه ) له سلو هغو ( هو ) ګانو څخه غوره ده چې دبې‌عدالتۍ په شتون کې يې وايو.»

روښانفکري د هرشر او بدۍ په وړاندې د پاڅون او درېدنې هڅه ده، هغه شر او بدي چې ټولنه زيانمنوي.

د روښانفکرانو د وېښتيايي، روښانتيايي او بدلون راوستونکې ونډې او مسئوليت له مخې پايلې ته رسېږو، چې هر لوستی يا تحصيلکړی بنيادم روښانفکر انسان نه‌دی. هغوی چې د خپلې ټولنې د ښېګڼې لپاره مبارزه کوي، که نالوستي هم وي، روښانفکران يې بللی شو.

په يوه ټولنه کې به ډېر تحصيل کړي او لوستي وګړي وي، خو که نه‌شي کولای د استبداد، ظلم، بې‌عدالتي، تحجر او خرافاتو له منځه‌وړلو او د ټولنې په ژوند کې د مثبت تغيير لپاره منسجم او هماهنګ عمل وکړي، نو په حقيقت کې دا ټولنه له روښانفکرو څخه تشه ټولنه ده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپلې ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د دې معادلې له مخې پايله اخلو، چې هوسا او روښانه ټولنې روښانفکران لري او محرومې و استبدادځپلې ټولنې د روښانفکرانو له لرلو هم محرومې دي.

په یوه حساب د مشروطیت نهضت د افغانستان په معاصر تاریخ کې د یوه منسجم روښانفکري خوځښت پیل ګڼلای شو. داسې یو روښانفکري خوځښت چې هڅو او قربانیو یې پایلې لرلې، د همدوی د هڅو په برکت دویم مشروطیت د افغانستان خپلواکي د خلکو په ملاتړ وګټله او افغانستان ته یې د مدني اصلاحاتو او موډېرن ژوند لومړني ظرفیتونو راوستل. تر دې روسته د افغانستان روښانفکري خوځښتونو وده وکړه. له ټولو لوړو ژورو، خنډونو، برياوو او ستونزو سره سره یې په تېره یوه پېړۍ کې لویو بدلونونو ته لاره هواره کړه.

له اوسنۍ تيارې او ناورين څخه د ژغورلو لاره هم د روښانفکرو افغانانو په فکر، عمل، هڅو او منسجم فعالیت تیرېږي، له دې پرته نورڅوک نهشته، چې افغان او افغانستان وژغوري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ